محمد هارون خپل شعشعي


۰۹ سپتمبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۵

**۸ - اِسمِ اَعظم :**

د اسلامي علومو پر نورو څانګو سربېره، د تصوف او عرفان په منظومو او منثورو آثارو کې هم، ډېر ځله د «اسم اعظم» اصطلاح تر سترګو کيږي . اسم اعظم، لکه څنګه چې له نامه څخه يې ښکاري، د لوی ښتن په مبارکو نومو يا اسماألحسنی کې، تر ټولو ستر او لوړ نوم دئ .

د اسلامي عُلومو ټول پوهان او مُجتهدان، دخدای تعالی د « اسم اعظم » په باب، يو شان نظر نه لري . د ځينو په اند، د خدای لوی نوم يا «اسم اعظم » اصلاً له خلکو پټ دئ؛ هر څوک نه په پوهيږي؛ او پېژندنه يې د انسانانو په سپېڅلتيا او اخلاص پوري اړه لري . د ځينو نورو اسلامي پوهانو په عقيده، د خدای ټول اسمأ الحسنی ، د حق تعالی (ج) لوی يا سترنومونه دي. د اسلامي عالمانو يوې ډلې، د الله سبحانه و تعالی له نه نيوي ( ۹۹) نومو څخه د «صمد» نوم، ځينو د « الحی او القيوم » نومونه ، ځينو نورو د «الرحمن او الرحيم» نومونه اوځينو نورو بيا د «هو» نوم د لوی ښتن د «اسم اعظم» په توګه ياد کړی دئ [۱] .

دا خبره څرګنده ده، چې د پروردګار د «اسم اعظم» د پېژندني په باره کې د اسلامي علومو او عرفاني مخکښانو تر منځ، د نظر څه ناڅه اختلافونه مالوميږی؛ خو سره له هغه هم د «اسم اعظم» د ستر ارزښت اواغيزې په باب ګرده په يوه خوله دي . داسلامي تصوف او عرفان په ټولو طريقو او داسلامي علومو په ګردو څانګو کې، د نظر خاوندان په دې عقيده دي، چې د لوی خدای (ج) د «اسم اعظم» همېشنی ذکر، د اپتو او بلاوو د له منځه وړلو، د بې ساري روحاني خوښۍ د ترلاسه کولو او الهي نيژدې والي کيلي ده .

د پارسي عرفاني ادب وتلي شاعر - خواجه شمس الدين محمد حافظ شېرازي ( په ۷۹۲ هـ ق کي مړ ) د شيطان د دسيسواو فتنو په شنډولو کي د « اسم اعظم » د جادويي تأثير په اړه داسي وايي :

« خاتم جـام را بشارت ده بحســـن خاتمة
كاسم اعظم كرد ازو كوتاه دست اهريمن۲ »

زموږ رسېدلي عارف شاعر، علي محمد مُخلِص، په «حالنامه» کي د خپل عرفاني پير - بايزيد روښان اورمړ' انصاري ' (۹۳۱- ۹۸۰ هـ ق) د روحاني بشپړتيا د بېلابېلو پړاوو د بيانولو په ترڅ کي ليکي، چي حق تعالى د قربت د ذکر په عطاکولو سره « اسم اعظم » هم د پير روښان پر زړه القأ کړ؛ خو ميا روښان د سپېڅلي قرآن د مُزمل د سورت د پينځم آيت (۷۳: ۵) « انا سنلقى عليک قولا ثقيلا ۳» له مانا سره سم د «اسم اعظم» درونډوالي ته غاړه نه ايښووله ۴ . د ده په فکر، دا نوم تر دواړو عالمو درونډ ؤ . بايزيد روښان دغه راز عقيده لرله، چي «اسم اعظم» مذکور نوم دئ؛ او د مذکور (حق تعالى) ذکر تر هغه وخته نا شونى دئ، تر څو ذاکر د مذکور صفت غوره نه کړي؛ ياني په مذکور کي ډوب او محوه نسي . د پير روښان له عرفاني نړۍ ليد سره سم «اسم اعظم » د وجود او هستى پرېښوونکي نوم دئ؛ او بايد هغه وخت پيل سي، چي ذاکر د «تخلقو باخلاق الله» يا «فنأ في الله او بقأ بالله» پړاو ته رسېدلئ يي . له دي امله هغه تر يوولسو کالو عرفاني رياضتو او کوښښو وروسته، هغه مهال چي د وصلت لوړ عرفاني مقام ته ورسېد، دا خبره ومنله چي د «اسم اعظم» له ذکر پرته، وروستي مقصود ته نسي رسېدلاى . پير روښان د «اسم اعظم » تر پيل کولو مخکي له رباب، سرندي، ځلور تاره ، شپېلۍ، نغارې، سرنا، ژرندي، دوکان، مځکي، اسمان، ونو، لاسو، پښو او نورو غږو څخه «اسم اعظم» اورېدئ ۵. ميا روښان په ځينو پارسي بيتوکي د عارف د ځان او اروا په سپېڅلتيا کي د الله تعالى د « اسم اعظم » اغېزه بيان کړې ده . د حالنامي د روايت له مخي، پير روښان په خپل عرفاني سير او سفر کي د «اسم اعظم» له برکته بالاخره د موحد عارف هغه مقام ته ورسېد، چي هلته د جلي او خفي شرک هيڅ نښه نښانه نه پاتېږي۶ .

علي محمد مُخلِص، د عرفاني سالکانو په ذکر او فکر کي د څښتن تعالى د « اسم اعظم » د اغېزمنتيا په باره کي، داسي وايي :

چي يي اســـم اعظم ذکر په هـــر دم شي
او يقــين يي په خـــپل ذکر مستحکم شي
درست جهان به واړه ځان گوري بي شکه
په هر چا به مهربان، رحيم، اکـــرم شي

لمنليکونه

۱ عميد ۱ : ۱۹۵ .

۲ حافظ شيرازي ۲۶۴ .

۳ ژباړه : موږ ژر پر تا باندي( اې محمده!) درونډ پېټى ( قرآن عظيم الشان) اچوو .

۴ مُخلِص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۵۲- ۵۳ .

۵ مُخلِص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۶۹ .

۶ مُخلِص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۸۱ - ۸۲ .

**۹- اسمانونه، ستوري، کُرسی او عَرْش :**

د نورو اسلامي علومو، فلسفي او حکمت په څېر، د اسلامي تصوف او عرفان په بېلابېلو آثارو کي هم، زياتره د اسمانانو، ستورو، عرش او کرسی په اړه پراخي خبري او بحثونه کيري . په دې بحث کي هڅه کوو، چي دد غو نومو او اصطلاحاتو، عرفاني مفهومونه په لنډه توګه ځرګند کړو.

د شريعت پلويان وايي، چي اسمانونه او ستوري جامد جسمونه دي . ژوند، پوهه، اراده، قدرت، د اورېدلو او کتلو وس نه لري . پرکايناتو باندي، د ارادي له مخي نه، بلکي د خاصيت له مخي اغېزه کيي . د حکمت پلويان وايي، چي اسمانونه او ستوري ژوندي موجودات دي؛ پوهه، اراده او واک لري؛ اورېدل او کتل کولای سي؛ او پر دې کايناتو باندي سربېره پر خاصيت، په ارادي سره هم تأثير لري .

که څه هم د قرآن کريم د بقرې د سورې په نه ( نهه) ويشتم ( ۲ : ۲۹) آيت، د فُصيلت د سورې په دولسم آيت ( ۴۱ : ۱۲)، د طلاق د سورې په دولسم آيت ( ۶۵ : ۱۲)، د ملک د سورې په دريم آيت ( ۶۷ : ۳) او د نوح د سورې په پينځلسم آيت ( ۷۱ : ۱۵) کي، په ځرګند ډول د اوو اسمانانو خبره سوې ده؛ خو په عرفاني ليکنو او څېړنو کي، پر اوو اسمانانو سربېره، عرش او کرسی هم د دوو بېلو اسمانو په توګه ياد سوي دي . د دغو اسمانونو نومونه په دې ډول دي : د سپوږمی اسمان يا لومړی اسمان، د عطارد اسمان يا دوهم اسمان، د زهرې اسمان يا دريم اسمان ، د لمر اسمان يا څلرم اسمان، د مريخ اسمان يا پينځم اسمان، د مشتري اسمان يا شپږم اسمان، د زحل اسمان يا اووم اسمان، فلک البروج يا اتم اسمان، فلک الا فلاک يا نم ( نهم) اسمان ( دا اسمان د اطلس د اسمان يا کُلي نفس په نومو هم ياد سوی دئ).

نم اسمان پر ټول جسماني عالَم راګرځېدلئ دئ؛ او په هغه کي هيڅ ستوری نسته . دې اسمان ته عرش هم وايي . اتم اسمان يا فلک البروج ته د ثواب اسمان يا کرسیهم وايي . د سپوږمی تر اسمان وروسته، چي مځکي ته تر ټولو نيژدې اسمان دئ، په وار سره اور، هوا، اوبه او خاوري پرتي دي[1]. د دې خبري مانا داده، چي مځکي ته په نيژدې کېدو سره ، د کثافت درجه ډېره او د لطافت درجه کميږي؛ او د دې پر خلاف اسمانو ته په نيژدې کېدو سره د لطافت درجه ډېره او د کثافت درجه لږ يږي . په بله ژبه مځکه تر ټولو کثيفه؛ او عرش تر ټولو لطيف اسمان دئ .

د عرش او کرسی د ماناوو په اړه ، د اسلامي علومو او اسلامي عرفان په کړيو کي، يو نظر او يوه رايه نسته . ځينو اسلامي ډلو عرش ( تخت، خيمه، چتری، چت، مانۍ، ودانۍ، د يوه شي رکن او ستنه) او کرسی ( تخت او چوکی ) په لغوي ماناوو کار کړي دي . ځينو ډلو د عرش او کرسی دپاره له دې لغوي تعبير سره مخالفت کړی دئ ؛او نهم اسمان يا فلک الافلاک يي د عرش په نامه ياد کړی دئ . د ځينو پخوانييو فيلسوفانو په عقيده کرسی د ثواب ځای دئ؛ او د ځينو عارفانو په اند، د امر او نهي موضع[2] .

مفکر عرفاني لارښوود - شيخ عزيزالدين بن محمد نسفي ( ۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق) په خپل عرفاني اثر « زبدة الحقايق » کي د جسمو، ستورو ، اسمانو، کرسی او عرش د پيدايښت په باب داسي ليکي : « جسم کثيف جوهر دئ؛ له دې امله د وېش اوتجزيي وړ دئ . الله تعالی هغه ظلماني جوهر ته وکتل . له زبدې او عصارې څخه يي په وار سره دغه جسمونه پيدا سوه : عرش، کرسی، اووم اسمان، شپږم اسمان، پينځم اسمان، څلرم اسمان، دريم اسمان، دوهم اسمان، لومړی اسمان، وروسته د هغه له شيرې او عُصارې څخه په وار سره اور، هوا، اوبه او خاوره پيدا سوه . په دې ډول، د شهادت او ملکوت اته ويشت مفردات بشپړ سوه ؛ له دوی سره درې مرکبونه : کان، نبات او حيوان پيداسوه؛ د الفباء اته ويشت توري او د نامه ( اسم)، فعل او تورو مرکبونه رامنځ ته

سوه[۳]. » شېخ نسفي، له بېلابېلو اسمانو، کرسی او عرش سره د انساني ارواوو د اړيکو په باب هم، خورا ژور او په زړه پوري بيانونه لري . د ده په اند، عرش د خاتم الانبياء، کرسی د اولوالعزمه پيغمبرانو، اووم اسمان د رسولانو، شپږم اسمان د انبياوو، پينځم اسمان د اولياوو، څلرم اسمان د معرفت د څښتنانو، دريم اسمان د زاهدانو، دوهم اسمان د عابدانو، اول اسمان د مؤمنانو مقام ؛ او څلور ګوني طبيعتونه د څلورو عناصرو ځای دئ . په دې توګه، تر ټولو لوړ مقام عرش او تر ټولو کښته ځای خاوره ده .

د اسلامي عرفان په ژورو رمزونو خبر عارف شاعر، علي محمد مُخلِص، په يوه غزله کي د څرګندو قرآني حکمو له مخي، د کايناتو پر مخ د اوو مځکو او اسمانونو خبره کيي؛ اود ګردو د پيدايښت حکمت د اسلام د ستر پيغمبر - حضرت محمد ( ص) د لولاک له مسألي سره تړي :

چي پر سر باندي يې ايښئ تاج لولاک دئ

په سبب يې اووه ځمکي، هفت افلاک دئ

د مُخلِص په عارفانه کلام کي، څو ځايه عرش او کرسیٔ په مجازي او کنايي ډول، د ناپايه لوړ او بې انتها عظيم مقام په مانا کار سوي دي . په يوه غزله کي، د حق تعالی د هغه ژمني يا وعدې مسأله څېړي، چي د زړه په ديد د ده د ذات ليدونکي ته تر عرش او کرسی لوړه مرتبه ور وبخښي :

چي د زړه په ديد زما و ذات ته ګـوري

په باطن به يې تر عرش، کرسی کلان کړم

که څه هم عرش او کرسی د مُخلِص په عرفاني نړئ ليد کي تر ټولو کايناتو لوی او لوړ مقامونه دي؛ خو سره له دې هم هغه د « لا اسع فی الارض و لا فی السمأ ولکن اسع فی القلوب المؤمنين[۴] » د قدسي حديث او د « قلب المؤمن اکبر من العرش و اوسع من الکرسی[۵] » د مبارک نبوي حديث لاربښوونو ته په پام کولو سره ، د مؤمن زړه تر دې مقامو هم پورته او عظيم ګڼي . د ده عارفانه کلام دئ، چي وايي :

د مؤمن زړه مي تر عرش، کرسی وسيع دئ

د مؤمن په زړه کي ځای بصير، سميع دئ

بل ځای وايي :

تل د عرش، کرسیٔ په مَلْـک به سَير کاندي

چي تر لاندي تل د زړه براق سمند دئ

په يوه بله غزله کي تر عرش او کرسی اَرَت زړه ، د هغه چا په برخه ګڼي، چي د معرفت په پوهه نازول سوئ يي :

چي د معرفت له عِـلمه بـــهره ور شي

په باطن يې زړه تر عرش، کرسی فراخ دئ

مُخلِص، په يوه بله غزله کي، د حق تعالی همېشنی ذکر او فکر د عرش لوړ او ستر مقام ته، د رسېدو ضامن بولي :

که د عرش و لوړ ميدان و ته دي هوش دئ

ته پري مه ږده يو زمان د نَفَس تاګه

په يوه نَفَس به و رسـي تر عـــرشه

دغه مزی دئ د عرش په لنګر لاګه

مُخلِص، د قرآن کريم د نجم د سورې د اوولسم آيت ( ۵۳ : ۱۷)  له حُکم سره سم، د عرش رفيع او وسيع مقام  ته د د واړو جهانو د وياړلي شخصيت  -  حضرت محمد ( ص )  رسېدل، د ده  په بې ساري عرفاني مرتبه کي ګوري . د ده د استدلال له مخي، د همدې لوړ عرفاني مقام له امله، رسول الله ( ص) بې الهي ديداره، د کايناتو پر مخ نور هرڅه هېر کړي وه . د مُخلِص له نظره، د خاصانو دا ستر مقام يوازي د هغو عارفانو په برخه دئ، چي د حق تعالى او خپل ځان تر منځ، ټولي پردې يا حِجابونه له منځه يوسي :

هر چي مازاغ البصر و ماطغی شه

پاس پر عرش د قربت کښېناست مربع

د خاصانو پر قطار به داخل نشي

څو د دوو کونو جامه نه کړه اخلع

د نور مالومات دپاره وګورئ : د کايناتو او انسان د پيداينت نظريه، عرفان او معرفت، مبدأ او معاد او داسي نور .

لمنليکونه

۱ وردی،  « تعليقات، »  زبدة الحقايق۱۲۴.

۲ وردی،  « تعليقات، »  زبدة الحقايق ۱۳۰.

۳  نسفي، انسان الکامل ۵۷ .

۴  زه پر مځکه او اسمان ځای نه سوم؛ خو د مؤمنانو په زړو کي ځای سوم .

۵  د مؤمن زړه تر عرش غټ او تر کرسی پراخ دئ .

نوربيا